**بسم الله الرحمن الرحيم**

## له حديث شريف سره

## د هغه چا په اړه چې ولاړ دی او له ناست عالم څخه پوښتنه کوي

د صحيح البخاري په شرحه فتح الباري کې "د هغه چا په اړه چې ولاړ دی او له ناست عالم څخه پوښتنه کوي" په باب کې راغلي دي.

عن أبي موسى قال: جاء رجل إلى النبي صلى الله عليه وسلم فقال: يا رسول الله ما القتال في سبيل الله؟ فإن أحدنا يقاتل غضبا ويقاتل حمية فرفع إليه رأسه قال وما رفع إليه رأسه إلا أنه كان قائما فقال: **"من قاتل لتكون كلمة الله هي العليا فهو في سبيل الله عز وجل".**

***ژباړه:*** *له ابو موسی رضي الله عنه څخه روايت دی چې وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم ته يو کس راغی او ويې ويل: اې رسول الله! في سبيل الله قتال څه شی دی؟ ځکه په موږ کې يو د قهر او غوسې له مخې او بل د تعصب له مخې قتال کوي. دا چې ناست و، نو خپل سر يې راپورته کړ، سر يې ځکه پورته کړ چې هغه سړی ولاړ و او ورته ويې فرمايل: څوک چې يوازې په دې موخه قتال وکړي، ترڅو د الله تعالی کلمه لوړه شي، نو د دغه کس قتال في سبيل الله دی.*

اسلام د عملونو په ترسره کولو کې نيت ته پام کړی دی او دا حديث ښايي د امت لپاره په دې برخه کې يو څرګند پيغام وي، چې په هر حالت او شرايطو کې په ځانګړې توګه له دوښمن سره د مخامخ کېدو پرمهال بايد له الله سبحانه وتعالی سره خپله اړيکه وساتي؛ ځکه په داسې يو خطرناک حالت کې د هر شي په پرتله يوازې له الله سبحانه وتعالی سره اړيکې ته ډېره اړتيا ده او دا حالت له الله سبحانه وتعالی سره له اخلاص پرته نه راځي، چې امت د اسلامي بيرغ د پورته کولو لپاره قتال وکړي، ترڅو د الله سبحانه وتعالی کلمه لوړه شي.

**اې مسلمانانو:**

نن ورځ د امت د هغو ډلو حالت څه ډول دی، چې خپل تعادل نه لري؟ بلکې خپل عقل يې له لاسه ورکړی، راوځي او جنګېږي ترڅو د امريکا کلمه لوړه شي؟! ترڅو د اسلامي خاورو د غلامو او مزدورو حکامو کلمه لوړه شي؟! د دغو ډلو حالت څه دی چې يوازې د امت له بچيانو سره جنګېږي؟! ايا رسول الله صلی الله عليه وسلم تاسو ته همدا امر کړی دی؟! ايا د سايکس پيکو تر بيرغونو لاندې جنګېږئ؟! ايا دا همغه قتال دی چې الله سبحانه وتعالی له تاسو څخه غوښتی دی؟! په الله قسم، چې نه. دا هغه څه نه دي چې الله سبحانه وتعالی او د هغه رسول صلی الله عليه وسلم غوښتي دي؛

بلکې الله سبحانه وتعالی غواړي چې د هغه سبحانه وتعالی د رضا لپاره او في سبیل الله قتال وکړئ، الله سبحانه وتعالی غواړي چې د هغه سبحانه وتعالی د کلمې د لوړېدو لپاره قتال وکړئ، ترڅو مسلمانان د خلافت په تاسیس سره چې الله سبحانه وتعالی یې ژمنه کړې، یو ځل بیا خپل پخواني شان و شوکت ته ورسېږي.

اې ربه! موږ ته د نبوت پر منهج راشده خلافت ژر راکړه، ترڅو مسلمانان متحد کړي او ستونزې او غمونه یې ورڅخه لرې کړي او اې ربه! ځمکه د خپل کریم ذات په نور سره روښانه کړه. آمین آمین.

**لیکوال: ابو مریم**

**ژباړه: صهیب منصور**